

شېربانو په کور کي د ټولو نه کشره وه- هغه د خپل مور پلار او د دوؤ ورونو د سترګو تور وه- د هغې دواړو ورونو په ښوونځي کي سبق وئيلو- کله چې به دهغې ورونه ښوونځي ته ولاړل نو هغې به پلار ته ؤوئيل! ”باباجانه زۀ به کله ښوونځي ته ځم؟“ بابا به ورته په ډېره مينه ووئيل، ”زما بچى! بس د لږو ورځو خبره ده، بيا به موږ تاسي په ښوونځي کي داخله کړو“-



اخر د شېربانو په ښوونځي کي د داخلې ورځ راغله- هغه د مور پلار سره لا د کوره باندي نه وه تللی چي کاکا او ماما ئې راغلل- هغوئ چي د شېربانو د ښوونځي د داخلې نه خبر سول نو حق حېران سو- او وې وئيل! چي زموږ په خاندان کي نو انجونې کله په ښوونځي کي سبق وائي"-



د شېربانو بابا ووئیل! ”چي هر څۀ کښېږي خو
زۀ به خپله بچۍ په ښوونځي کي داخلووم-
ځنګه چي ئې ورونه ښوونځي ته ځي دغسې
به دا هم ځي“- هم دا ډول شېربانو ښوونځي
ته روانه سوه- هغې ښۀ په مینه سبق ویئلی-
هغه پنځم ټولګي ته ورسېده-



ماښام ماما ډېر په خښم د باندې څخه کورته راغلو- او په الماری کي ئي کاغذونه لټون پېل کړو- مامي ته ئي وئيل چي په الماری کي د هغۀ د ګاډی کاغذونه وو- کۀ ؤ نۀ موندل سول نو ډېر تاوان به وسي- مامي ووئيل، ”وی خدايه! ما خو ټول کاغذونه وسوزول“- ماما په دواړو لاسونو سر ونيوۀ اوهو دا څۀ وسول؟



په دې کې شېربانو څۀ کاغذونه راوړل او ماما ته ئې ووئيل! "ماماجان! تاسو وګورئ دا خو به نۀ وي؟" ماما چې وکتل نو وئې وئيل، "هاو بچۍ هم دا دي- دا تا چيرې و موندل؟" شېربانو وئيل! "مامۍ چې د ګلاب قلارولو له دننه ولاړه نو ما کاغذونه ولوستل چې چيرته ضروري کاغذونه خو پکې نسته-" ماما ووئيل! "شکر دی چې په کور کې تۀ وې کنې نو زما خو به ډېر تاوان سوی ؤ-"



یو څو ورځې وروسته شېربانو کره د لوی اختر
بلنه وه- د کاکا او ماما کورنۍ هم راغلي
وه- د شېربانو مور خوندور خوراکونه پخ
کړي وو- ټولو ماشومانو په خوراک ښنباک
او په لوبو ټوقو ورځ تېره کړه- ماښام لوی
واړهٔ ګپ شپ ته کښیناستل-



ماما ډېر په مینه شېربانو ته ږغ وکړل- بانو بچیې! د ښوونځي سبق دې څنګه روان دی- بانو ورته ووئیل، "ماما جي! زهٔ خپل ټولګي کي په لومړۍ نمبر راغلي یم-" ماما د هغې په سر لاس کښېښودهٔ او وې وئیل، "شاباس! دا واخله د اختر پېسې او ورسره د لومړۍ راتلو انعام"-



کاکا چې د شېربانو او ماما تر مینځه دا خبرې واورېدې نو ډېر حېران سو- د ماما څخه ئې پوښتنه وکړه- "وروره! تۀ هم د شېربانو ښوونځي ته په تلو خوشحاله ئې"- ماما ورته د کاغذونو هغه قیصه وکړه- کاکا ئې چې دا واورېدل نو ډېر خوشحاله سو- دواړو په یو ږغ ووئیل! نن څخه وروسته به مورې هم خپلې لونه ښوونځي ته لېږو-



بله ورځ د شېربانو ماما او کاکا دواړو په ماجت کي له مانځۀ وروسته د ملا صاب خلګو ته د انجونو د زده کړي ګټې بيانې کړې- هغوئ ووئيل چي د انجونو زده کړه ضروري ده- دې سره به زموږ د خپل کلي انجلۍ ډاکټرانې او استاذانې سي- ټولو په خوشحالۍ ووئيل!بيخي سمه ده- موږ به خپلي انجونې په ښوونځي کي ضرور داخلوو-



د شېربانو مور د کلي ښځې د باران خواست د پاره خپل کور ته راغوښتي وې- هغوئ د ښوونځي استاذه مس پلوشه هم راغوښتي وه چي ښځو ته نصیحت وکړي چي خپلې لوڼه په ښوونځي کي داخلي کړي- ټولو ووئیل چي د هغوئ په خپله هم ډېر شوق ؤ چي د ښوونځي سبق ووایئ خو په هغوئ وخت تېر دی- اوس به هغوئ خپلې لوڼه ضرور په ښوونځي کي داخلوي-




په ماجت کې اعلان وسو چې په ښوونځي کې
د انجونو داخلې پېل سوي دي- ټولو میندو
او پلرو خپلې لوڼه ښوونځي ته راوستې-
د شېربانو مامي او تینداري هم خپلې لوڼه
د داخلې د پاره راوستې- مس پلوشه نن د
خوشحالۍ په جامو کې نه ځائېده ځکه چې نن
په ښوونځي کې ډېرو انجونو داخله واخسته-

# بګ بکس

## د دویم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بین الاقوامي ترقۍ دپاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي- په دې لړکښې پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ دپاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودنې مواد تیار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بګ بُکس لیکلې شوي دي- یو بِګ بُک به په دوؤ هفتو کې لوستلې شي- استاذان به دا بِګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لوَلي- د هر بِګ بُک په وروستنې مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي- استاذان دې په هفته کې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بِګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قیصه واورولې شي- د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتیجه کې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو رواني، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړي شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېریو برخه وي چې راتلونکې ماشومان ترې هم ګټې تر لاسه کړي او د پښتو په لوستلو کې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي-
مونږ هیله لرو چې د پي آر پي دا محنت د بلوچستان په پرائمري سکولونو کې د لوستلو معیار ښهٔ کولو کې معاون ثابت شي-

پاکستان ریډنګ پراجېکټ کې لاندیني تعلیمي او د ښودنې مواد شامل دي-

- ټي اَئي جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بِګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه

د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# د استاذانو د پاره لارښوونې

پاملرنه: استاذان دې هره ورځ ماشومانو ته ټوله قیصه اوروي او په لاندیني لارښوونو دې عمل کوي-

## لومړۍ ورځ (خبري اتري: پېش ګوئي او زاړه معلومات)

### تر لوستلو مخکې

» ماشومانو ته د قیصه د سرپاڼې ښودلو په وخت پوښتنه وکړئ،
» د قیصه سر پاڼه تاسو ته د قیصه په هکله څۀ ښايي؟
» د قیصه سرخط به څۀ وي؟

### د لوست په مینځ کې

» د دويم مخ د عکس ښودلو په وخت پوښتنه وکړئ، په قیصه کې د بانو ماما او کاکا ولې په غصه کې ښکاري؟
» د شپږم مخ د عکس وښايئ او پوښتنه وکړئ، ستاسو په خيال ماما ته به د ګاډي کاغذونه په لاس ور سي او کۀ نه؟ څنګه؟

### تر لوست وروسته

د خپلې مرضۍ د دوو سوالونو پوښتنه وکړئ-
» پنځم مخ وښايئ او ماشومانو نه پوښتنه وکړئ چې په دې کې څومره کرښې دي- د دې مخ وړومبی او اٰخري ټکی وښايئ-
» د شېربانو څو ورونه دي؟

## دويمه ورځ (د ارکانو مشق)

### تر لوست وروسته

کېدې سی چې ستاسو په ټولګي کې ځيني داسي لوستونکي هم وي چې مورنۍ ژبه يې پښتو نه وي، دا لاندیني سوالونه يوأځي د دغو لوستونکو څخه وپوښتئ-
» په سر پاڼه عنوان "شېربانو" ته اشاره وکړئ او پوښتنه وکړئ، تاسو خپله ژبه کې دې ته څۀ وايئ؟
» په وړومبي مخ د صوفې عکس ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ، ستاسو ژبه کې دې ته څۀ وائي؟
» په پنځم مخ جمله "وی خدایه! ما خو ټول کاغذونه و سوزول" ولولئ او ماشومانو ته په خپله ژبه کې دا جمله د لوستلو ووایاست؟
» په اتم مخ ودرېږئ او جمله د تاثراتو او د لب و لهجې کښته پورته والي (زېروبم) سره ولولئ "ماماجي زۀ خپل کلاٰس کې اول راغلې يم"- ماشومانو ته په خپله ژبه کې دا جمله د لوستلو ووایاست-
» ماشومانو سره هم ږغ ټکي جوړ کړئ- لکه: بانو، شانو، مانو، خانو، جانو-
ټکي: مور، مینه، روان، ډېر

## دريیمه ورځ (ذخیره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### تر لوست وروسته

» په دويم مخ جمله "حق حېران سو" مطلب "عجیبه لګېدل" استعمال کړئ او يو مثال ورکړئ لکه: "ماما چې ناڅاپه د کراچۍ نه راغلو نو مور ورته حق حېرانه پاتې سوه-" اوس ماشومانو ته ووایاست چې د دې ټکي نه نورې جملې جوړې کړي-
» په پنځم مخ جمله "وی خدایه!" مطلب دی، په څۀ غلط کار خواښني کېدل کول-لکه: وئ خدایه! ما خو بمبه خلاصه پرېښې وه- اوس ماشومانو ته ووایاست چې "وائ خدایه!" په جملو کې استعمال کړي-

## څلورمه ورځ (خبري اتري:د ذاتي ژوند په هکله)

### تر لوست وروسته

» د شېربانو ماما او تړۀ هغه د ښوونځي نه ولې منع کوله؟
» کۀ تاسو څوک د ښوونځي نه منع کوي نو تاسو به څۀ کوئ؟
» شېربانو ولې پلار په ښوونځي کې داخلوله؟
» د شېربانو ماما د هغې نه ولې خوشحاله سو؟
» د شېربانو کورنۍ ښوونځي کې داخلې د پاره د کلي جينکو له څۀ وکړل؟
» ستاسو په ښوونځي کې داسې انجلۍ شته چې ښوونځي ته نۀ ځي؟ تاسو به د هغې ښوونځي ته تلو د پاره څۀ کوئ؟
» کۀ شېربانو له لوستل نه ورتلی نو د ماما کاغذونو به څۀ کېدل؟
» په دې قیصه کې ورکړي شوي واقعات بیا ووایاست-

www-pakreading-org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID)- It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government- The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government-

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلکو په مرسته د امریکې بېن الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن سوې ده- دا مواد يو اېس اېډ- پاکستان رېډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان رېډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو اېس اېډ يا د امریکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-